صدائے حق

دجهاد او فساد ترمنځ توپیر

مولانا محمود حفظه الله

د بیان پښتو ژباړه

اعوذ بالله من الشيطان الرجيم

بسم الله الرحمن الرحيم

عَنْ مُعَاذِ بْنِ جَبَلٍ، عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، أَنَّهُ قَالَ:" الْغَزْوُ غَزْوَانِ فَأَمَّا مَنِ ابْتَغَى وَجْهَ اللهِ، وَأَطَاعَ الْإِمَامَ، وَأَنْفَقَ الْكَرِيمَةَ وَيَاسَرَ الشَّرِيكَ، وَاجْتَنَبَ الْفَسَادَ، فَإِنَّ نَوْمَهُ وَنُبْهَهُ أَجْرٌ كُلُّهُ، وَأَمَّا مَنِ غَزَا فَخْرًا وَرِيَاءً وَسُمْعَةً وَعَصَى الْإِمَامَ وَأَفْسَدَ فِي الْأَرْضِ فَإِنَّهُ لَمْ يَرْجِعْ بِالْكَفَافِ (سنن ابي داود/كتاب الجهاد)

له معاذ بن جبل رضی الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: "جهاد په دوو ډولونو دی: نو هغه څوک چې د الله تعالی رضا یې وغوښته، د امام اطاعت یې وکړ، تر ټولو غوره مال یې ولګاوه، له خپل ملګري سره یې نرمي او مینه وکړه، او له جګړې او فساد څخه لرې پاتې شو، نو د هغه خوب او ویښوالی ټول اجر دی، او هغه څوک چې د فخر، ریا او شهرت لپاره یې جهاد وکړ، د امام نافرماني یې وکړه، او په ځمکه کې یې فساد وکړ، نو هغه به د هېڅ اجر سره بېرته راونه ګرځي.

د جهاد له نورو جګړو سره فرق دا دی، چې له جهاد پرته په نورو جګړو کې فساد کېږي او په جهاد کې د فساد مخنیوی کېږي. دا روایت حضرت معاذ بن جبل رضی الله عنه څخه دی، چې هغه فرمایي:

قال رسول الله ﷺ: الغزوُ غزوانِ

چې حضور ﷺ وفرمایل: جګړې یا معرکې دوه ډوله دي.

د مجاهد لومړی صفت:

فَأَمَّا مَنِ ابتَغَى وَجهَ اللهِ

هغه کسان چې د الله تعالی د رضا لپاره جهاد کوي

حضرت ابی موسی اشعری رضی الله عنه څخه روایت دی چې: قال اعرابی لنبی صلی الله علیه وسلم، یو اعرابي رسول الله ﷺ ته وویل:

- یو سړی د غنیمت لپاره جګړه کول غواړي
- یو سړی د دې لپاره جګړه کوي چې خلک هغه یاد کړي
- او د دې لپاره جګړه کوي چې په خلکو کې یې مرتبه مشهوره شي چې د هغه مرتبه څومره ده

له دوی څخه کوم یو په فی سبیل الله کې دی، چې د الله په لار کې جهاد کوي؟

نو رسول الله ﷺ وفرمایل:

من قاتل لتكون كلمة الله هي العلياء فهو في سبيل الله

هغه څوک چې د دې لپاره جګړه کوي چې د الله تعالی کلمه لوړه شي، هغه د الله تعالی په لاره کې جهاد کوي.

له نورو جګړو سره د جهاد یو فرق دا دی چې په جهاد کې د الله تعالی رضا مقصوده وي او په نورو جګړو کې دا شی نه وي.

د مجاهد دوهم صفت:

و اطاع الامام

د امام اطاعت کوي

کوم امیر چې پر هغه مقرر وي، د هغه اطاعت کوي. په داسې حال کې چې په نورو جګړو کې دا شیان نه وي.

حضرت ابوهريره رضی الله عنه فرمايي، چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل چې:

مَنْ أَطَاعَنِي فَقَدْ أَطَاعَ اللهَ، وَمَنْ عَصَانِي فَقَدْ عَصَى اللهَ، وَمَنْ أَطَاعَ أَمِيرِي فَقَدْ أَطَاعَنِي، وَمَنْ عَصَى أَمِيرِي فَقَدْ عَصَانِي (صحيح البخاري/كتاب الأحكام)

چا چې زما اطاعت وکړ، هغه د الله تعالی اطاعت وکړ، چا چې زما نافرماني وکړه، هغه د الله تعالی نافرماني وکړه. چا چې زما د امير اطاعت وکړ، هغه زما اطاعت وکړ، او چا چې زما د امير نافرماني وکړه، هغه زما نافرماني وکړه.

د دې مطلب دا دی چې د امير اطاعت د رسول الله صلی الله عليه وسلم اطاعت دی، او د رسول الله صلی الله عليه وسلم اطاعت د الله تعالی اطاعت دی. مګر که دا امير تاسو ته د معصيت (ګناه) حکم وکړي، نو بيا "لا طاعة لمخلوق فی معصية الخالق" د خالق په نافرمانۍ کې د مخلوق اطاعت جائز نه دی.

په دويم روايت کې حضرت انس رض فرمايي:

اسْمَعُوا وَأَطِيعُوا، وَإِنِ اسْتُعْمِلَ عَلَيْكُمْ عَبْدٌ حَبَشِيٌّ (صحيح البخاري كتاب الأحكام)

رسول الله ﷺ مور ته وفرمايل چې؛"واورئ او اطاعت وکړئ"، که څه هم پر تاسو يو حبشي غلام امير مقرر شي.

بيا هم د هغه اطاعت وکړئ. په مجاهدينو کې د اطاعت ماده ډېره کمه ده. که اطاعت وي نو د اطاعت ډېر برکتونه دي.

د مجاهد درېيم صفت:

وأنفقَ الكريمةَ

د جهاد مسئله دا ده چې په دې کې د خپلې عزيز او قيمتي شي قرباني کول وي.

په جهاد کې د مال هم قرباني کول وي او د ځان قرباني هم وي. په نورو جګړو کې دا شيان د قربانۍ پر ځای ترلاسه کول وي.

له حضور ﷺ څخه چا پوښتنه وکړه :

قِيلَ : أَيُّ الشُّهَدَاءِ أَفْضَلُ ؟ قَالَ : مَنْ أُهْرِيقَ دَمُهُ وَعُقِرَ جَوَادُهُ

پوښتنه وشوه: کوم شهيد تر ټولو غوره دی؟ ده وفرمايل: هغه شهيد تر ټولو غوره دی چې وينه يې تويه شي او آس يې زخمي شي.

د مجاهد څلورم صفت:

د مجاهد صفت به دا هم وي چې :

وياسَرَ الشَّريكَ

چې له خپل ملګري سره به نرمي کوي. (ځکه چې د هغه سره وسله ده)

د صحابه کرامو صفت دا و:

اشداء على الكفار رحماء بينهم

پر کفارو سخت وو او په خپل منځ کې رحم کوونکي وو

یو بل روایت له حضرت مکحول رضی الله عنه څخه روایت دی

قال رسول الله صلى الله عليه وسلم؛ المُؤمنونَ هَيِّنونَ لَيِّنونَ كالجَمَلِ الأَنِفِ ، إنْ قِيدَ انْقادَ، وإنْ أُنيخَ على صَخرةٍ استَناخَ (البيهقي في ((شعب الإيمان))

رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل؛ مؤمنان باوقاره (او سنجیده) او نرم وي، لکه مانوس اوښ، چې که د هغه مهار ونیول شي او مخکې تري روان شي، نو هغه ورپسې روانېږي او که هغه پر یوې ډبرې کښېنول شي، نو کښېني.

د مجاهد پنځم صفت:

د مجاهد یو بل صفت به دا وي؛

واجتنب الفساد

مجاهد به له فساد څخه ځان ساتي. ځکه چې جهاد د فساد د له منځه وړلو لپاره وي.

الله تعالی په قرآن مجید کې فرمایي:

وَلَوْلَا دَفْعُ اللّٰهِ النَّاسَ بَعْضَهُمْ بِبَعْضٍ ۙ لَّفَسَدَتِ الْاَرْضُ (الایه)

او که الله تعالی د خلکو ځینې د ځینو نورو په وسیله نه دفع کولی، نو په ځمکه کې به فساد خپور شوی وای.

نو دا د جهاد برکت دی چې په ځمکه کې اصلاح راځي.

کله چې دا ټول صفتونه په مجاهد کې موجود وي:

- د الله تعالی رضا یې مقصود وي
- د امیر اطاعت وي

- خپل مال او ځان قربانوي
- د خپل مجاهد ملګري خیال ساتي
- له فساد څخه ځان لرې ساتي

فَإِنَّ نَوْمَهُ وَنَبْهَهُ أَجْرٌ كُلُّهُ

د هغه خوب او ویښوالی ټول د اجر په توګه شمېرل کېږي

په قرآن کریم کې الله تعالی فرمایي:

بِأَنَّهُمْ لَا يُصِيبُهُمْ ظَمَأٌ وَّلَا نَصَبٌ وَّلَا مَخْمَصَةٌ فِي سَبِيلِ اللّٰهِ وَلَا يَطَـــُٔونَ مَوْطِئًا يَّغِيظُ الْكُفَّارَ وَلَا يَنَالُونَ مِنْ عَدُوٍّ نَّيْلًا اِلَّا كُتِبَ لَهُمْ بِهٖ عَمَلٌ صَالِحٌ اِنَّ اللّٰهَ لَا يُضِيعُ اَجْرَ الْمُحْسِنِيْنَ.

دا ځکه چې یقیناً دوی ته نه څه تنده رسي او نه ستړي والی او نه لوږه د الله په لاره کې او نه دوی پر کوم داسې ځای قدمونه ږدي چې کفار په غصه کوي او نه رسي دوی دښمن ته په (هېڅ) رسېدلو سره (چې د هغوی وژل، بندیان کول او ترې غنیمت اخیستل دي) مګر دوی ته په دې سره نېک عمل لیکلی شي، بېشکه الله د نېکي کوونکو اجر نه ضایع کوي.

د مجاهد د ګرځېدو او تګ راتګ هم ثواب دی. د دې په بدل کې د هغوی لپاره یو یو نېک عمل لیکل کېږي.

د فسادي لومړۍ صفت:

وَأَمَّا مَنْ غَزَا فَخْراً وَرِيَاءً وَسُمْعَةً

او هغه خلک چې د فخر او ریا او شهرت لپاره جګړه کوي. (دا بل اړخ دی، یعنې فساد خپروونکي دي)

په یوه روایت کې راځي: چې د قیامت په ورځ به درې کسان راوستل شي. لومړی به د دوی په اړه فیصله کېږي. یو شهید به وي، الله تعالی به هغه ته وفرمایي چې ما پر تا نعمتونه کړي وو، مجاهد به ووایي چې ما ستا په لار کې شهادت ترلاسه کړی و. الله تعالی به وفرمایي چې نه، ته ځکه شهید شوې چې خلک دې بهادر وبولي. له هغه وروسته به هغه جهنم ته وغورځول شي. همدا ډول معامله به له عالم او سخاوت کوونکي شخص سره هم کېږي.

له دغو دریو کسانو سره به داسې معامله ځکه کېږي چې د هغوی په اعمالو کې فخر او ریا وي.

د فسادي دوهم صفت:

وَعَصَى الإِمَامَ

او د خپل امیر نافرماني کوي.

د فسادي دریم صفت:

وَأَفْسَدَ فِي الْأَرْضِ

او په ځمکه کې فساد جوړوي.

فساد فی الارض ډېر لوی زیان دی. په یوه روایت کې حضرت ابو درداء رضی الله عنه فرمایي: چې رسول الله ﷺ مورږ ته وفرمایل چې: آیا زه تاسو ته د دوو شیانو په اړه خبر درنه کړم؟ چې له روژې څخه غوره دي، له لمانځه څخه غوره دي، له صدقې څخه غوره دي، صحابه کرامو عرض وکړ چې یا رسول الله مورږ ته یې ووایاست. حضور ﷺ وفرمایل چې :

صلاح ذات البين

د خلکو ترمنځ جوړجاړی کول دي، له تفرقې او اختلاف څخه لرې پاتې کېدل دي.

په يوه بل روايت کې راځي؛ چې رسول الله ﷺ له دې وروسته فرمايي:

فَإن فساد ذات البين هی الحالقة ، لَا أَقُولُ تَحْلِقُ الشَّعَرَ ، وَلَكِنْ تَحْلِقُ الدِّينَ

څکه چې د خلکو ترمنځ اختلاف خريوونکی دی. زه دا نه وايم چې ويښتان خريي، بلکې دين له منځه وړي.

نتيجه:

فَإِنَّهُ لَمْ يَرْجِعْ بِالْكَفَافِ

(هغه ته څه ثواب ورسېد) هغه خو برابر برابر هم بېرته راستون نه شو.

هغه څوک چې د فخر او ريا لپاره جګړه کوي، د خپل امير نافرماني کوي او په ځمکه کې فساد خپروي، نو هغه ته به هېڅ ثواب نه وي، بلکې کېدای شي برعکس هغه ته عذاب وي.

اختلافات د کومو وجوهاتو له امله راځي؟

مجاهد له بل مجاهد سره ولې اختلاف کوي؟

په اصل کې د دې دوه وجې دي. له دغو دوو شيانو څخه مجاهد بايد ځان وساتي:

لومړی لامل :

د مال او جاه حرص:

حضرت کعب ابن مالک انصاري رضی الله عنه زوی له خپل پلار څخه دا روايت کوي:

مَا ذِئْبَانِ جَائِعَانِ أُرْسِلَا فِي غَنَمٍ بِأَفْسَدَ لَهَا مِنْ حِرْصِ الْمَرْءِ عَلَى الْمَالِ وَالشَّرَفِ لِدِينِهِ (أخرجه الترمذي ، وأحمد)

که دوه وږي لېوان په پسونو کې پرېښودل شي، نو هغوی هم دومره فساد نه شي جوړولی، څومره چې د مال او جاه حرص د انسان دین خرابوي.

څومره چې اختلافات راځي، یا د مال له امله راځي، یا د عزت له امله راځي، چې زما رتبه لویه ده، ستا رتبه وړه ده. او دا یقیني خبره ده چې کله مجاهد دغو شیانو ته پام نه کوي، یعنې د ځان لپاره رتبه نه لټوي، نو اختلافات به نه وي، مفادات به نه وي.

دوهم لامل:

تنظیم پالنه یا قوم پالنه:

همدارنګه اختلافات د تنظیمونو له امله، یا د قوم پالنې له امله راځي.

حضرت جابر رضی الله عنه فرمایي: چې موږ په یوه جګړه کې شریک وو. یو مهاجر چې ټوکي طبیعت یې درلود، هغه پر یوه انصاري صحابي د شا له خوا یو څپېړه ووهله. نو هغه انصاري صحابي ته دا څپېړه ډېره بده ولګېده. نو هغه وویل: یا للأنصار. نو مهاجر صحابي مهاجرینو ته غږ وکړ. کله چې حضور ﷺ ته د دې خبر معلوم شو، نو د هغه مبارک مخ رنګ ډېر متغیر شو.

دعوها؛ فإنها منتنة

(دا قوم پالنه او د تنظیمونو شعارونه) پرېږدئ، دا بدبویه دی.

د بد بوی دا حالت وي چې ضرر یې په یوه ځای کې نه پاتې کېږي، بلکې ضرر یې سرایت کوونکی وي. پر نورو هم اثر کوي. همدارنګه د اختلاف زیان هم سرایت کوونکی وي. هېڅوک له دې ضرر څخه خوندي نه پاتې کېږي.

حضرت عبدالله بن عمر رضی الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ فرمایي:

لا يَزَالُ الرَّجُلُ فِي فُسْحَةٍ مِنْ دِينِهِ مَا لَمْ يُصِبْ دَمًا حَرَامًا (رواه البخاري)

انسان تر هغه پورې د خپل دین په پراخۍ کې وي. (الله تعالی هغه ته د توبې توفیق ورکوي، په دین کې یې پرمختګ کوي) تر هغه پورې چې د چا ناحقه وینه تویه نه کړي.

مجاهد باید د خلکو د ژوند او مال ساتنه وکړي او له ناحقه وژنې څخه ځان وساتي. که هغه له ناحقه وژنې او قتال څخه ځان نه ساتي، نو دا خپل جهاد د فساد پر لور وړي. نو مجاهد باید د خپل جهاد ساتنه وکړي.

و آخر دعوانا ان الحمد لله رب العالمين